UNAMA
United Nations Assistance Mission in Afghanistan
Strategic Communications
http://unama.unmissions.org

# د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د عمومي منشي ځانګړې

# استازی ښاغلي نیکولاس هیسم لنډ ګزارش

*[څرنګه چې وړاندې شوی]*

## نیویارک، ۱۷ سپتمبر ۲۰۱۵

***

ښاغلي رئیس، او د شورا غړو،

کله چې ما تېر ځل خپل ګزارش تاسې ته وړاندی کړ، ما مشاهده کړ چې افغانستان په دوامداره توګه د نړیوال ټولنې ملاتړ ته، او همدارنګه د دغه شورا دوامداره پاملرنې ته اړتیا لري ځکه چې هېواد د اقتصادي رکود، امنیت او سیاسي ننګونو د ستونزو سره مخ دی. زه په کلکه خپل پر نظر باندې ولاړ یم. نشې کیدای چې د ټیکاو او ځان بسیاینې لپاره د افغانستان مسیر آسانه او وړیا وانګیرل شي.

د مهاجرت لپاره د هېواد څخه د وتلو اوسنې جریان د زیات شمېر افغانانو د مایوسي کچه څرګنده وي. افغان وګړي د خپل نږدې تېر وخت خو د خپل لږ وړاندې تېر وخت د تاوتریخوالي څخه روښانه خاطری لري او پداسې حال کې چې خپل راتلونکې ناڅرګند وینې نو اوس په دقت سره خپل چاپېریال، د نړیوال د عدم تعامل د نښو د ښکاره کیدو، او یا د داخلې ټیکاو لپاره د هېلې پخاطر څاري. د نړیوالې ټولنې لخوا د ملاتړ یو واضح علامت کولای شې دغه بې باوري راکمه کړي کوم چې اوسنې مهاجرت ستر لامل شوی دی.

ښاغلی رئیس،

زما د تېر ګزارش څخه لږه موده وروسته، د ملې یوالې د حکومت په دننه کې، او همدارنګه د ملې یوالې د حکومت او د سیاسې نخبه ډېرو تر منځ یو شمېر کړکیچونه راڅرګند شوي دي، چې د نورو لاملونو تر څنګ، د مخ په خرابیدو امنېتې او اقتصادې چاپېریال څخه سرچېنه اخلې. پداسې حال کې چې د دغو دواړو مسلو هېڅ یو هم د حکومت لخوا ندی څرګند شوي، خو په رسنیو کې د نه عمل او ناسمه محاسبه تورونه لګول شوي دي.

لدې وروسته يو شمېر مثبت انکشافات رامنځته شوي دي چې په هغه کې د ملي يوالي حکومت په فعاليت کې د پرمختګ نښې نښانې شامل وو. د يو شمېر استثناآتو سره، د ملي ستر اراکينو پوستونه اوسمهال ډک شوي دي او دواړه د وزيرانو شورا او کابينه فعال دي. زه په پرله پسې ډول سره ولس مشر اشرف غنی او ډاکټر عبدالله عبدالله هڅوم چې د تعيناتو پروسه نهايي کړي، په ځانګړی ډول د واليانو، د ملي دفاع وزارت او لوي څارنوال بستونه.

همدارنګه حکومت، خپل د کليدي ژمنو د جملې څخه يوه ژمنه، د ټولټاکنو په ډګر کې د سمون مسلې ته د رسيدګي په کار کې، د ټاکنو د سمون د ځانګړي کميسيون د رامنځته کولو له لارې، پرمختګ کړی دی. دغه کميسيون، چې زما د مرستيالانو څخه يو تن په هغه کې د نه رايو ورکولو د غړي په توګه تعين شوی دی، لا د وخته خپل د وړانديزونو يوه بسته وړاندی کړی دی. کابينه هم په چټکۍ سره اوه وړانديزونه تاييد او دری نور يې د بيا غور او مطالعې لپاره رد کړ. د ټولټاکنو د سيستم د بدلون په اړه وړانديز، په ځانګړي ډول سره د افغانستان د راتلونکي سياسي ډګر لپاره يوه نه ترلاسه کوونکې پايلې ولري. نو ځکه زه د افغانستان حکومت هڅوم چې د دې موضوع په اړوند، مخکې لدې چې پريکړه وکړي، يو توافق ترلاسه کړي. د ټولټاکنو سمونونه د هېواد د ديموکراتيک بنسټ د پراختيا لپاره اړين دي او دا سمونونه بايد د ټيکاو او د وګړو د يو ځآی کولو سرچېنه وي، نه د دوي د ويشلو.

ښاغلی رئيس،

د سپتمبر د مياشتې په پيل کې، د توکيو د متقابل حساب ورکوني کاري چوکاټ ستر چارواکي په کابل کې ناسته ترسره کړل. دغه ناسته د ګډونکونکو لخوا د يو برياليتوب په ډول ومنل شو. دا هم تاييد شو چې دا د ډونرانو تېرو ژمنو او راتلونکې ژمنو تر منځ د پُل د يو مهم برخې په ډول دی، کوم چې د افغانستان د روان ملاتړ لپاره د هغه ضرورتونه پوره کړي. د سترو چارواکو غونډه کې د متقابل حسابورکونې يو نوي کاری چوکاټ تاييد کړ، د ټول حکومت لپاره داسې يو فرصت په لاس ورکړ چې وکولای شی خپلې ژمنې په يو د باور وړ سمون اجنډا کې رامنځته کړي. دا ډېره اړينه ده چې مخکې لدې چې په ۲۰۱۶ کال د وارسا او بروکسل په مهمو ناستو کې ګډون وکړي، ډونرانو ته اطمينان ورکړ شي، چې تمه کېږی چې په دغو ناستو کې د ډونرانو ژمنې يو ځل بيا نوي شي. که څه هم دا بايد په ياد وساتو چې د ۲۰۱۷ کال څخه وروسته د افغانستان لپاره د ډونرانو د مالي ژمنې په اړوند، د ۲۰۱۶ کال په دغه کنفرانسونو کې پريکړه نه کيږي، بلکې په پايتختونو کې د هر راتلونکې مياشت لپاره پريکړه کيږي. نو مخکې لدې، حکومت ته لازمه ده چې د خپل توافق شوي اجراتو شاخصونه وړاندې کړی، په ځانګړي ډول هغه شاخصونه کوم چې روښانه کوي چې اداری فساد په اغيزمن ډول سره ځپل شوی دی.

افغانستان د انکشافي مرستو يوه استثنايي کچې څخه برخمن شوی دی پداسې حال کې چې په نړيواله کچه د مالي مرستو غوښتنې څو برابره زيات شوی دی. د سترو چارواکو په ناستې کې ګډونکوونکو پر خپل متقابل مسؤليت باندې هوکړه وکړل چې ډاډمن کوي چې دغه مرستې بايد په اغيزمن ډول سره په نښه او وړاندې شي. د افغانستان په اړوند د سېمه ايز اقتصادی همکاری کنفرانس (ريکا) شپږمه ناسته، د سترو چارواکو د ناستې څخه يوه ورځ مخکې جوړه شوه چې په هغه کې سېمه تاييد کړ چې لا زيات اقتصادی مرستو، يوالي او اتصال ته اړتيا شته. کوم منطق چې د دغه تاييد لامل شوی دی هغه دا دی چې په افغانستان کې ټيکاو او وده د ټول سېمې په ګټه ده او دا په نړيواله توګه تاييد شو. همدارنګه تاييد شو چې په سېمه کې خنډونه، د ساري په ډول د انسان او مخدره توکو سرحدی انتقالات، نشی کيدای په يوازی توګه د يو هېواد لخوا حل شی.

ښاغلی رئيس،

جګره لا هم په دوامدار توګه د ملکي افغان وګړو څخه بوګنونکې شمېر قرباني اخلي. د ۲۰۱۵ کال په لومړی اتو مياشتو کې يوناما، د کمې ورځې څخه چې د مستند کولو کار يې پيل کړی دی، د افغان ملکي وګړو تر ټولو زيات قربانيانو شمېر مستند کړی دی. دا بايد په ياد وساتل شي چې د ملکي وګړو د تلفاتو د شمېر څارنه چې د يوناما د بشری حقونو د څانګې لخوا ترسره کېږي، دواړه په ملګرو ملتونو کې او د هغه څخه بهر نهادونو کې، د تر ټولو ښه مودل په ډول تاييد شوی دی.

زه دا ځکه یادوم چې د دغه ځانګې موندنې، په ځانګړی ډول د تاوتریخوالي مسؤلیت، د ښځو د خواو لخوا د تنازع لامل شوی دی.

د حکومت مخالف عناصر په دوامداره توګه د ملکي وګړو د وژنې او ژوبل کیدو زیاتره برخه مسؤلیت لري پداسې حال کې چې د حکومت پلوه ځواکونو لخوا د ملکي وګړو تلفات مخ په پورته روان دی. یوناما د ولسمشر اشرف غني د وروستیو ویناو له امله هڅول شوی چې د ملکي وګړو د تلفاتو د کمولو لپاره باید رسمي ګامونه واخیستل شي. زه باور لرم چې حکومت د ملکی وګړو د تلفاتو د کچې د کمولو په پالیسې کې هغه ټول سپارښتنې کوم چې د یوناما د شپږمیاشتنې په راپور کې، د ملکي وګړو خوندیتوب تر عنوان لاندې خپور شوی دی، وړاندي شوي دي، په ځانګړی ډول د ملکي وګړو تلفاتو د پېښو د روڼ تحقیق په اړه سپارښتنې، شامل کړي. یوناما چمتو دی چې په دغه اړوند د افغانستان د حکومت سره مرسته وکړي.

همدارنګه یوناما د ښځړو ټولو خواو سره خپل ډیالوګ ته ادامه ورکوي تر څو د ملکي تلفاتو مرګ ژوبله کمه کړي، خوندیتوب زیات کړي، بنسټیز بشری حقونه درناوی وکړي او د هېواد په ټولو برخو کې د بشری مرستو لاسرسي ډاډمن کړي.

په ورته حال کې ماموریت حکومت هڅوي تر څو خپلو هڅو ته دوام ورکړي چې د شکنجې د له منځه وړلو لپاره خپل ملي پلان پلي کړي، په ځانګړي ډول د شکنجې په وړاندې او نور غیر انسانې، حقارت او ظالمانه کړنلارې په اړوند د ملګرو ملتونو کنوانسیون لپاره انتخابي پروتوکول تایید کړي. پدې اړوند، موږ د حکومت د دې بیان او نیت هرکلی کوو چې د دغې ناستې څخه وروسته لومړنې ګامونه به واخلي.

ښاغلي رئیس،

د سږ کال شخړه، یو تر ټولو سخته او شدیده شخړه وه چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو تجربه کړل. پداسې حال کې چې دوی یو ځل بیا خپل معنوي ځواک او انعطاف پذیری یې ثابت کړل، خو یو شمېر تحلیلګرانو مشاهده کړل چې په لېریو پرتو سېمو کې د حکومت مخالف عناصر د یو شمېر ستر کتلوی جنګیالیو ظرفیت له ځانه وښودل. دغه عمل د افغان ملي امنیتي ځواکونو ځواک وننګول چې یوازې وکولای شوای خپل تر تصرف لاندې سېمې وساتي، او یا د منازعې هغه سېمې چې بېرته دوې نیولي وي، د هغه څخه دفاع وکړي. څرنګه چې په تېرو ګزارشونو کې وړاندوینه شوې وو، تمه کیده چې د ۲۰۱۵ کال په دوران کې په هېواد شخړی به تشدید شي.

ښاغلی رئیس،

دغه حالت د دوامداره سولې پروسې له سره پېل اهمیت روښانه کوي. څرنګه چې د عمومي منشي په راپور کې څرګند شوی دی، د طالبانو او د افغان حکومت د بوې ډلې تر منځ رسمي خبرې اترې د جولاي په میاشت په مرې کې پیل او په سر کې ښه پرمختګ کړی و، خو اوس داسې ښکاري چې خبرې اترې په ټپه دریدلي دي. لومړی لامل یې د ملا عمر د ناڅاپي مرګ د خبر له امله د طالبانو په منځ کې د هغه د ځای ناستي پرسر کشاله وي. او دویم لامل یې په افغانستان کې د یو پراخ بنسټه سولې رامنځته کولو کې د پاکستان د حکومت د همکاری درول وي. د اګست د میاشت په پیل کې د کابل په ښار کې یو شمېر ستري چاودنې وشوي چې د پاکستان پر ضد احساسات راوپارول او د ولسمشر په ګډون د افغانستان د حکومت لخوا د غندنې لحن شدید شو. ولسمشر شکایت وکړ چې کوم لاس مو چې د دوه اړخیز همکاری په موخه اوږد کړی وو چې د تروریزم پر خلاف د پولو په دواړو خوا کې مبارزه کېږي، د ورته ځواب او عمل سره مخ نشو. ولسمشر له پاکستان څخه وغوښتل چې بلواګري مهار کړي په ځانګړي ډول د حقاني شبکه کوم چې د پاکستان د خاوری څخه علمیات پلانوي. وروسته له هغه چې په لوړه کچه لېدنې ترسره شول، د پاکستان د ملي امنیت سلاکار سرتاج عزیز د سفر په ګډون، د متقابل نېوکو او اتهاماتو کچه راټېټه شوه او یو لړ ژمنې وشوي تر څو په افغانستان کې د ټیکاو په موخه د رغنده همکاری د بیا له سره پیل کولو په اړوند یو لړ ژمنې ترسره او تبادله شو.

زه خپل غوښتنه د افغانستان د حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ تعامل لپاره مکرراً بیانوم. افغان ولس چې د جګړې څخه کړیدلي دي او د سولې لپاره هیله من دي، او دوي د دې مستحق هم دي. ټول هغه ګواښونه چې افغانستان ورسره مخ دی، د افغانستان په دننه کې سرچینه نلري. زیات شمېر مخالفین د ګاونډې هېوادونو څخه سرچینه اخلي. دغه هېواد حق لري چې دغو پدیدو سره د مبارزی په موخه، د نړیوال ملاتړ لپاره غوښتنه وکړي، په ځانګړي ډول د سېمې په کچه. دا د سېمې د هېوادونه د مشرانو او نورو همکارانو مسؤلیت دی چې د یو سوله ییز او امن افغانستان مسلې ته لومړیتوب ورکړي. په دغه اړوند یوناما د ټولو ګاونډیو هېوادونو څخه غوښتنه کوي چې د تروریزم د ګواښ په ګډون، خو نه یوازی د خراسان ولایت د اسلامي حکومت، داعش ډلې ته محدود، په مقابل کې خپله رغنده ونډه ترسره کړي، او د افغانانو تر منځ د سولې پروسه ترویج کړي.

یوناما په غیر مستقیم ډول سره د حکومت، طالبان، ګاونډی هېوادونه او نړیوالي ټولنې سره خپل تعامل ته دوام ورکوي تر څو داسې یوه پروسه ترویج کړي چې افغانانو ته دا امکان ورکړي چې داسې امکانات ومومي چې د هغه په وسیله وکولای شي په سوله کې ژوند وکړي. یوناما، د یو عام شموله سولې پروسې په اړوند، د افغانستان حکومت لخوا، د ملګرو ملتونو د ښځو، سولې او امنیت په اړوند د امنیت شورا د ۱۳۲۵ ګڼې پریکړه لیک پر بنسټ، د افغانستان د ملي عمل پلان د پیل هرکلی کوي کوم چې د ملي پخلاینې په هر ډول پروسه کې د ښځو ګډون به ترویجوي.

ښاغلی رئیس،

څرنګه چې د دغه شورا لخوا غوښتل شوي وو، یوناما، د عمومي منشي په استازیتوب، او د افغانستان د حکومت او ډونرانو سره په بشپړ سلا مشورو سره، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو موسسو د جوړښت او فعالیتونو آزموینه پیل کړی دی. په بحث کې د افغانستان تمې او اړتیاوې روښانه شو او له امله یې دا ممکن شو چې ملګري ملتونه دا وآزمایي چې په څه ډول کولای شي خپلې پروژې د افغانستان د لومړیتوبونو سره برابر کړي او همدارنګه پر موسساتي پیاوړتیا او ظرفیت را منځته کولو باندې تمرکز وکړي. موږ تمه لرو چې دغه راپور د شورا لپاره د ماموریت په راتلونکې بحثونو کې کارنده وي.

دلته زه خپلې خبرې د ښاغلی تنین څخه په ستاینې سره پای ته رسوم ځکه چې د ده حضور، په ملګرو ملتونو کې د افغانستان هېواد د دایمي استازی په ډول په دغه شورا کې، آخرني حضور وي. زه د هغه د رغنده تعامل او ملاتړ ستاینه کوم چې د خپل هېواد لپاره ترسره کړی دی.

***